# پوره اودس وکړه او دګوتو مینځونه خلال کړه او پوزې ته په اوبو اچولو (استنشاق) کې مبالغه وکړه، مګر دا چې روژه یې

د لقیط بن صبرةرضي الله عنه څخه روایت دی وایي چې: زه د بَنِي الْمُنْتَفِق د وفد استازی وم - یا د بَنِي الْمُنْتَفِق په استازو کې وم-، کله چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ته ورتلو، نو کله چې مونږ رسول الله صلی الله علیه وسلم ته ورسېدو هغه مو په کور کې ونه موند، بلکې مونږ له ام المؤمنین عایشې رضي الله عنها سره مخ شو، وایي نو هغې امر وکړ چې زمونږ لپاره حلوا تیاره کړی شي، نو چمتو کړی شوه، وایي: او مونږ ته په یو قاب کې خرما راوړل شوې، بیا رسول الله صلی الله علیه وسلم راغی، نو وېې فرمایل: «آیا تاسو څه وخوړل؟ یا ستاسو لپاره د خوړو چمتو کولو څه ویل شوي دي»؟ مونږ وویل: هو ای د الله رسوله! وېې فرمایل: په داسې حال کې چې مونږ د رسول الله صلی الله علیه وسلم سره ناست وو په دې وخت کې شپون رمه پنډغالي ته دننه کړه او یو وریځ ورسره وه چې رمباړې یې وهلې، نو رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: «فلانیه څه شی یې وزېږاوه؟» هغه وویل: ښځه بچې یې زېږولې ده، رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل:« پر ځای یې مونږ ته پسه حلال کړه» بیایې وفرمایل: «ګمان مه کوئ» چې ستاسو په خاطر مو پسه حلال کړ، زه سل پسونه لرم نه غواړم چې شمېر یې لدې زیات شي، کله چې د شپون په (رمه کې) ښځینه سېرلې وزېږېږي، پر ځای یې مونږ پسه حلالوو» وایي: ما وویل: اې د الله رسوله! زه یوه پوچ خولې مېرمن لرم (یعنې تېره ژبه لري) رسول الله صلی الله علیه وسلم وویل: طلاقه یې کړه، هغه وویل: ای د الله رسوله! ما سره یې ډېر وخت تېر کړی او اولادونه ترې لرم، وایي «نو نصیحت ورته وکړه» وایي: «نو که خبر پکی وي ستا خبره به ومني، او خپله ښځه دې د وینځې په څېر مه وهه» ما وویل: ای د الله رسوله! د اوداسه په باره کې معلومات راکړه، وېې فرمایل: "پوره اودس وکړه او دګوتو مینځونه خلال کړه او پوزې ته په اوبو اچولو (استنشاق) کې مبالغه وکړه، مګر دا چې روژه یې".

[صحیح دی] [أبو داود، الترمذي، النسائي او ابن ماجه روایت کړی دی]

لقیط بن صبرة رضي الله عنه وایي چې هغه او د هغه د قوم؛ بني المنتفق نور خلک نبي صلی الله علیه وسلم ته استازي ورغلل، وایي: مونږ هغه په خپل کور کې ونه موند، خو مونږ د مومنانو مور عایشة رضي الله عنها وموندہ، هغې امر وکړ چې مونږ ته له وړو او غوړیو څخه حلوا چمتو شي او مونږ ته یو طبق یا قاب راوړلی شو چې خرما پکې وې. بیا وروسته رسول الله صلی الله علیه وسلم راغی او وېې ویل: "آیا تاسو ته کوم خواړه وړاندې شوي دي"؟ مونږ وویل: هو، لقیط وویل: پداسې حال کې چې مونږ د رسول الله صلی الله علیه وسلم سره ناست وو، د نبي صلی الله علیه وسلم د رمې شپون راغی چې رمه یې پنډغالي ته روانه کړې وه، او په غېږ کې یې یو وزګوړ وه چې رمباړې یې وهلې، نو هغه وویل: څه شی یې وزېږګاوه؟ هغه وویل: ښځینه. وېې ویل: نو پر ځای یې مونږ ته غټ پسه حلال کړه، بیا رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: ګمان مه کوئ چې ستاسې لپاره مو هغه پسه حلال کړ، مونږ ۱۰۰ پسونه لرو، او نه غواړو چې شمېر یې له دې څخه زیات شي، نو کله چې نوی بچی وزېږېږي، پر ځای یې مونږ یو حلال کړو، لقیط وویل: ما وویل: اې د الله رسوله! زما د ښځې ژبه اوږده ده او پوچې ویناوې کاروي، څه ورسره وکړم؟ هغه وفرمایل: طلاقه یې کړه. هغه وویل: ما وویل: اې د الله رسوله! هغه ما سره اوږده ملګرتیا لري او زه ترې اولادونه لرم. هغه وفرمایل: نصیحت ورته وکړه، نو که خیر پکې وي په نصیحت به دې عمل وکړي، او که ستا پر نصیحت یې عمل ونه کړ داسې وهل ورکړه چې زیانمنه نه شي، او داسې یې مه وهه لکه څنګه چې خپل غلامان وهې. بیا لقیط وویل: اې د الله رسوله! ماته د اودسه په اړه خبر راکړه. هغه وفرمایل: د اوداسه پر مهال اوبه اندامونو ته ښې ورسوه، او هر غړي ته یې حق ورکړه، هېڅ یو فرض یا سنت یې مه پرېږده، د لاسونو او پښو د مینځلو پر مهال دې ګوتې پرانیزه، او په پوزه کې اوبو کش کولو او بېرته رایستلو کې زیاته مبالغه وکړه، مګر دا چې

روژه وې، چې اوبه دې معدې ته لاړې نه شي.

https://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/8378